شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (۹۸۱) سال هژدهم شمارهٔ (٦٥) یکشنبه (۱۲) سنبله ۱۳۷٤ هـ ، ش (۸) ربیع الثاني ١٤١٦ ه، ش (۳) سپتمبر ۱۹۹۵ م

قیمت (۳۰۰) افغانی (۲ روپیه)

امکان یك حمله کماندویی روسها درقندهار

پشاور - ۱۱ سنبله :

دریك خبر موثقیکه ازقول منابع حزب اسلامي درمشهد براي شهادت ارسال شده آمده است که ده طیاره میگ ۲۹ و ۸۰ تن مشاوران روسي واردمیدان هوایي شیندند شده است .

قرارخبر، این مشاوران روسي وظیفه دارندکه طیارات موجود درمیدان هوایي شیندند را فعال نموده ودرسایربخش هاي نیروي هوایي اداره‌ائتلافي نیز نقش موثر اداغایند .

درخبرموجود شایعهٔ رسیدن (۷۰۰) سرباز روسي به شیندند تائید شده است . گفته میشودکه مشاوران روسي درصورت عدم رهایي عمله طیاره توقیف شده روسي توسط طالبان ،امکان اجراي یك عملیات کماندویي را براي آزادي گروگانان تحت غور وبررسي قرارداده اند .

هیئت پاکستانی عازم مزارشریف است

اسلام آباد :

هیئت (۱۳) نفری پاکستانی شامل نمایندگان وزارت خانه های نفت ومواصلات واداره هواپیمایی بین المللی پاکستان عنقریب وارد مزارشریف می شوند .

روزپنجشنبه سخنگوی وزارت خارجه پاکستان دراسلام آباد به خبرنگاران گفت:این بخشی ازپالیسی مادرامربازسازی افغانستان است . وی امضای توافقنامه جداگانه میان پاکستان وجنرال دوستم حین سفرآصف احمد علی وزیرخارجه پاکستان راتکذیب نمود . وی افزود جنرال دوستم خواستارکمك پاکستان درامربازسازی برخی پروژه های عمرانی شده بود وپاکستان درهربخشی که بتواند به جنرال دوستم کمك مینماید که این امربخشی ازپالیسی کشور مادرامرکمك رسانی به افغانستان است .

روسانو شیندند ته لس میگ ۲۹ دوله الوتکی او ۸۰ سلاکاران راوستی دی

طالبانو نیمروز بشپړ او دفراه زیاتي برخي نیولي دي

په نیمروزکی دحزب دووقوماندانانو له طالبانو سره لویه مرسته کړي ده

دشهادت خبریال دخبره له جنوب لویدیزې برخې نه دیوه باوري خبرځاي له خولي ریوټ راکوي چي دوسه ورځ طالبانو دنیمروز ولایت بشپړ اودفراه ئې زیاتي برخي ونیولي . ریوټ زیاتوي چي په نیمروزکي دحزب اسلامي دوو قوماندانانو لعل زاد او آغامحمد دنیمروز په نیولوکي له طالبانوسره لویه مرسته وکړه .

دنیمروز والي اوامنیه قوماندان هرات ته وتښتیدل. اوس جګړه دشین دند دهوائي ډګر په دیرش کیلومتري د«بوجان» په سیمه کي روانه ده اوشین دند دطالبانو ترکلکي کلابندي لاندي دي .

منبع وائي چي په کندهار کي دروسي الوتکي ترښکته کولو وروسته اتباوروسي سلاکاران شین دند ته راغلي دي.همدارنګه روسانو لس میګ ۲۹ دوله پرمختللي جنګي الوتکي هم شین دندته راوستي دي . منبع وائي چي په شین دندکي دروسانو دحضورپرخندیه ، هرات کي ځو ورځي

دهرات خلکو دروسانو دراتلو پرخلاف مظاهري وکړي

جګړه دشیندندپه (۳۰) کیلومتري کی دٔ «بوجان» په سیمه کی روانه ده

مخکي مظاهري پیل شوي چي ورورسته داسمعیل خان پلویانو قرآن شریفونه راوایستل اوهغو په روي ئي له مظاهره کوونکو مخه وغونیتل چي دلویي غوغاله ایجادولونه ډډه وکړي .

منبع زیاتوي چي روسانوپه دي وروستیو کي شین دندته دمهماتو دراوړلو لړي ډیره تونده کړي وه خواوس دشین دند دکلابندي په وجه له مشکلاتوسره مخامخ شوي دي .

منبع وائي چي دهماهنګي عالي شوري هوائي ځواکونو دسنبلي په لومړي نیټه اوبیا دنبري چهارشنبي او پنجشنبي په ورځ دشین دند هوائي ډګر اودهرات

دریم مخ

دافغانستان داسلامي پاځون شورئ :

استاد ربانی دی ډیرژر استعفی وکړی

بایدپه هیواد کی د روس او هند پوځی لاسوهنه ختمه شی

دریم مخ

مجاهدین درامتداد جادهٔ ماهیپر چندین کیلومتر پیشروی نمودند

گزارشگرشهادت طي تماس مخابروي

مجاهدین دلسپر حزب اسلامي فعــــــ خطوط مقدم جبهه دشمن را شکست ـه چندین کیلومتردرمسیر جاده ماهیپرپیشروي نمودند .

ازسروبي گزارش میدهد دیروز (شنبه) نیز درگیري میان مجاهدین و نیروهاي اداره کابل درکوتل لته بند وجاده ماهیپر جریان داشت . درگزارش گفته شده که

مجاهدین به تعقیب یك سلسله عملیات پیروزمندانه، مواضع واستحکامات دشمن درمسیرراه ماهیپر را درهم کوبیده خطوط اول ودوم دفاعي آنرا نابود کرده بیش ازپنج کیلومترپیشروي نمودند

گزارش مي افزاید درجریان این درگیري تعدادي از افراد دشمن کشته یازخمي گردیده امارشمار دقیق تلفات ذکري بعمل نیامده است . ص (۳)

۵۰۰ تن ازافراد مسلح دشمن به شورای هماهنگی پیوستند

تیرین کوت - ۱۱ سنبله :

ولسوالي اشترلاي ولایت ارزگان تحت محاصره نیروهاي شوراي عالي هماهنگي قرارداشته عنقریب ازتسلط نیروهاي اداره کابل آزاد خواهدشد.

خبرنگارشهادت طي تماس مخابروي به نقل ازیك منبع آگاه حزب وحدت اسلامي درولایت ارزگان ، خبرمیدهد به تعقیب فتح ولسوالي هاي چارقل وسنگ تخت اکنون مرکزولسوالي اشترلاي تحت

محاصره قرار داشته باگذشت هرلحظه حلقه محاصره بردشمن تنگتر میگردد درگزارش گفته شده که ارتباط زمیني نیروهاي اداره کابل باخارج ازحلقه محاصره قطع بوده وازطریق هوا بوسیله

هلیکوپترانجام میشود .

براساس همین گزارش درعملیات پاکساري در دو ولسوالي قبلي این ولایت (۲۷) تن از افراد کشته (۵۷) تن دیگر مجروح گردیده وجمعاً ۵۰۰ نفر

ص (٤)

احمدشاه «مسعود» مسکو اوډیلي ته :

دپاکستان پرخلاف هرګام اخیستوته چمتویم

له کابل څخه دیوه باوري خبرځاي «شهادت» ته وویل چي په دي وروستیو کي احمدشاه «مسعود» خپل ځانګړي استاځي مسکو اوډیلي ته له دي پیغام سره لیږلي چي دپاکستان پرخلاف دهرډول ګام پورته کولو ته چمتودي چي دده له وسه پوره شي .

خبرځاي ویلي چي مسکو اوډیلي ته دمسعود په پیغام کي یوځل بیا ټینګار شوي چي که دده له اداري سره مرسته وشي ، دوي به هغه نقشي اوپلانونه کټ مټ عملي کړي ، کومي چي دکابل دپخوانیو کمونستو رژیمونو دپاکستان پرخلاف ورکولي کیدي .

خبرځاي زیاتوي چي مسعود په خپل پیغام کي ټینګار کړي ده چي «پاکستان له مسکواو ډیلي سره ددوستي په جرم، زموږ په خلاف جګړه کوي که تاسي په لاقوت زموږ ملاوتړي ، موږ به پاکستان سره په دښمني تر وروستي حده ورانډي تللوته تیاریو ».

دریم مخ

دبگرام هوایی ډګر تربمباری وروسته :

نظارشوری خپلی درندی وسلی کابل ته نقلوی

کابل - دوږی ۱۱ :

له کابل څخه راغلي عیني شاهدان وائي چي دوي ورځي مخکي ۳ جیت الوتکو دکابل په شمال کي دبگرام هوائي ډګر ترسختوبمبارو لاندي ونیوه چي په نتیجه کي دنوموړي ډګرالوتني کربنه ویجاړه اوله نوموړي ډګرڅخه تقریباً ۱٦ ساعته تورلوګي پورته شول .

دغه شاهدان وایي چي له هماغي ورځي راهیسي له نوموړي ډګرڅخه دهرډول الوتکو الوتني بندي شوي دي .

له بل خوا داسي ویل کیږي چي دکابل اداري واکمن اوس خپلي درندي وسلي چي پخوانئ پنجشیراوجبل السراج ته وړي وي بیرته کابل ته رانقل اوغواړي دخپل ځان امنیت دځونورو ورڅوله پاره پری تامین کړي

حوادث اخیر ازهماهنگی مخالفین درسرکوبی اداره کابل حکایت دارد

اداره ربانی ازبکارگیری قوای هوایی محروم است

جناح هاي مخالف اداره پروفیسور رباني به توافق بااعلام شدهٔ دست یافته اند که بادرنظرداشت آن توانسته اند عملیات نظامي شان را بخاطرسرکوبي این اداره هماهنگ سازند .

روزنامه نیوز درآخرین شماره خود مینویسد : باآغاز درگیري هاي همزمان وپراگنده چنان معلوم مي شود که نیروهاي مخالف رباني باهم به توافق رسیده وحملات هماهنگ راعلیه آن براه

انداخته اند که فشارقوي ونیرومندي بران وارد نموده که درنتیجه موفقیت هاي قابل ملاحظه نصیب شوراي عالي هماهنگي و گروه طالبان گردیده است .

این روزنامه مي افزاید : نمایندگان مخالفان رباني هم اکنون مصروف گفتگو هاومذاکرات اند تا روابط ، همکاري هاي شان را بخاطر سرکوبي اداره کابل مستحکم ترونزدیکتر سازند . ص (۳)

روزنامه اطلاعات

اداره کابل از ادامه نبرد های شمال وجنوب کشورعاجزمانده است

تهران ۱۱ سنبله :

روزنامه های چاپ ایران اوضاع وحالات سیاسی ونظامی اخیرافغانستان راموردتحلیل وبررسی قرارداده می نگارد که : باتشدید حملات موفقانه مخالفان اداره کابل باب تحول نظامی جدیدی گشوده شده است .

ازجمله روزنامه اطلاعات چاپ تهران می نویسد درحالیکه برعلیه اداره کابل ازچهارجبهه مختلف جنوب، غرب ، شمال شرق وجنوب کابل مخالفان اداره رباني حملات خودرا همزمان تشدید بخشیده اند ، اداره کابل ازادامه این نبرد ها عاجزمانده است .

داکتر انور دنظار شوري درئیسه هیئات غړي وټاکل شو

یوه باوري خبرځاي «شهادت» ته وویل چي دحزب اسلامي یوتن ناراضي داکتر محمدانور چي دپروان دجبل السراج اوسیدونکي دي ، د احمدشاه مسعود له خوا دنظارشوري درئیسه هیئات دغړي په توګه وټاکل شو .

خبرځاي زیاتوي چي مسعود داکاروداکتر انور دهغي خوشخدمتي په بدل کي کړي چي نوموړي له نظارشوري سره دحزب دخینو ناراضیانو دپیوستون په لارکي ترسره کړي و .

خبرځاي وایي چي اوس دناراضیانو په منځ کي داحمدشاه مسعود نژدي اړیکي له داکترانور سره دي، او دي موضوع دناراضیانو په منځ کي پرلو پوښتني راپورته کړي اوهغوی ئي دمسعود په شدیدوقومي متعصبانه تمایلاتو لاندګومانه کړي دي .

په جنوب کی دطالبانو پرخلاف ،دنظارشورا هڅی توندیږی

دپیښور سرقونسل موسی خان ، رازمحمد «دلیلی» او ابراهیم « حقانی » یکی فعاله ونډه لری

نوي پوره باوري منبع پرون «شهادت» ته وویل چي په دي وروستیو کي دنظارشوري ددفاع وزارت او «امنیت ملي» له خوادهیواد په جنوب کي دطالبانو پرخلاف هڅي خوراتوندي شوي دي . او غواړي په دي سیمو کي یولږ مزاحمتي پیښي اوجګړي رامنځ ته کړي .

منبع زیاتوي چي په دي هڅوکي مولوي جلال الدین «حقاني » په غیرمستقیم اودهغه وروور ابراهیم حقاني چي پخوا په ګردیز کي دنظارشوري له خوا دقول اردو قوماندان و، مستقیماً ونډه لري .

منبع وایي چي دطالبانو پرخلاف دهمدي جریان دپرمخ بیولو لپاره قاضي رازمحمد «دلیلي» ،په پیښورکي دکابل سرقونسل جنرال موسی خان ، دحزب اسلامي ناراضي قاضي نجی الله اودمولوي جلال الدین «حقاني » ورور محمد ابراهیم حقاني دیوه ټیم په توګه موظف شوي دي چي دوي به دخپلوچارو او کړنو ریوټ دملي امنیت ، رئیس جنرال فهیم ته ورکوي .

منبع زیاتوي چي خوورځي دمخه

دریم مخ

دحزب دناراضیانو دفعالیت چاري جنرال فهیم ته وسپارل شوی

بوباوري خبرځاي شهادت اداري ته وویل چي دکابل ائتلافي اداري مسئولین دیوه ټمل «حزب اسلامي » له اعلان نه دمطلوبي نتیجي له پوره کولو نه په بشپړه توګه مایوس شول اودحزب ناراضیانو له ئي لاریښونه وکړه چي دټمل حزب له اعلان نه تیرشي اوپه بیلابیلو ، زونونو ، کي دجنرال فهیم ترمشري لاندي

دملي امنیت ، لـه اداري سره فعالیت وکړي .

خبرځاي وائي چي دحزب څینوناراضیانواحمدشاه مسعود تـه داو ورکړي وچي دوي په سروبي ،لغمان او ننګرهارکي دپام وړنفوذ اوتاثیرلري ، دجګړي دپیل په صورت کي به له دي نفوذ اوتاثیرنه زیاته ګټه واخلي او په اصطلاح ددولت په ګټه به دسروبي اولغمان سقوط اسانه کړي .

خودجګړي ترپیل وروسته چي کله مسعود ددوي دنفوذ اوتاثیرکومه نښه ونه لیدله ، دهغه مایوسي نوره هم زیاته شوه . اوبه دي توګه ئي دټمل حزب اسلامي داعلان تصمیم ښځي پرینبوه.

منبع زیاتوي چي اوس ده ناراضیانو ، دفعالیت اداره اوکنترول جنرال فهیم ته سپارل شوي اوپه بیلابیلوهغو زونونو کي چي دنظارشوري دمخالفینو ، په خاصه توګه حزب اسلامي د قوماندانانو

دریم مخ

زیری زیری زیری

دحزب اسلامي افغانستان د ارشاد او فرهنگ ریاست پتیلي ده چي پـه راتلونکيونژدي وختونو کي هـره ورځ دشهادت ورځپانه په پرله پسي توګه خپره کړي، دشهادت اداره ددرنو لوستونکیو وراندیزونو،لیکنو،انتقـاداتو، نظریاتو اواعلانونوته منترګي په لار ده .

(اداره)

په بادغیس ولایت کی دکابل اداری یوه لویه توطیه شنډه شوه

بادغیس - د وږی (۱۱)

دبادغیس ولایت څخه ترلاسه شوي ریوټونه وایي چي پدي وروستیوکي کابل اداري ته وفاداراسماعیل خان غونډتل چي په بادغیس ولایت کي دخپلو پیرودل شویوکسانو په مرسته ګډوډي اودخلکوترمنځ بي باوري رامنځ ته کړي په یوه خبرکي ویل شوي چي داسماعیل خان داتوطیه دبرژرشنډه اودهغوی ګن شمیرپلویان چي غونډتل یي داکارترسره کړي دهماهنګي شورادوبارمنوځواکوله خواژوندي نیول شوي اوترتحقیق لاندي دي

دحزب نامتو قوماندان لطف الله آغا شهید شو

په کندهارکي دحزب اسلامي افغانستان نامتوقوماندان لطف الله آغا پرون په کوټه کي ددوو تنو اسلام دښمنو عناصرو له خوا شهید کړای شو.

په کوټه کي دحزب ددفتر یوه مسئول شهادت ته وویل چي لطف الله آغا ددوه ورځ ده طالبانو ، له مشرانو سره تر خبرو اترو وروسته له کندهار نه کوټي ته راستون شوی و.

نوموړی منبع وویل چي پرون په داسي حال کي چي لطف الله آغا له کوره راووت اوله خپلو څوتنو وسلوالو سره دحزب دفتر ته روان و .

ددوتنو وسلوالو افرادو له خوا په زوروموټرته وځیژول شو او په سره پله کي په شهادت ورسول شو ،وقاتلان د پیښي له ځایه وتښتیدل .

منبع زیاتوي چي دشهید لطف الله آغا ملګرو،قاتلان پیژندلي اودهغوی دنیولو په برخه کي به ژر اقدام وشي . شهید لطف الله آغا دکندهار د پنجوایي ولسوالي اوسیدونکي ؤ اوکله چي په ۱۳۵۸ کال ملاصلاح الدین «شهید» شهید شو ،دی یې پرځای قوماندان وټاکل شو.

شهید لطف الله آغا دجهاد په ټوله موده کي په ټاکخه ایمان او لوړ شهامت ددین اووطن په لارکي وجنګیده اوپه همدي لارکي یې دخپلي کورنۍ دري تنه هم له لاسه ورکړل.

رب العالمین دي زموږ شهید وروته فردوس جنت وربه برخه کړي ، لاردي له لاروبو وکه اویاد دي تلپاتي وي .

سرمقاله

راځئ چې روانو جګړو ته «هدف» ورکړو!

نن زمونږ په ګران هیواد کې خونړۍ جګړې روانې دي . په ټولو جګړو کې یوې خوانه نظار شوری یادکابل اداره اوبلې خوانه همآهنګۍ شوری په ګډه ،طالبان او حزب اسلامي برخې دي .

په دې جګړو کې هره ورځ زمونږ په لسګونو اوسلګونو مظلوم هیوادوال په وینو کې لمبیږي ، په لسګونو اوسلګونو کورونه له خاورو سره برابریږي ، ټول وطن یې په ماتم کده اړولی ، او هره ورځ مو ولس په نویو بدمرغیو اوړی اوملت مودزمانې له قافلې نه په فرسخونو فرسخونو شاته پاتې کیږي .

خود به داسې کیږي ، په جګړو کې ګلونه نه ویشل کیږي ، جګړې دمتخاصمو ارادو دټکر نومونه وي په جګړو کې د خوشحالۍ اوسلامتیو سوغاتونه ، نه بلکې دتیغونواو ګولیو وارونه مبادله کیږي ، په جګړو کې دخوشحالیو او ژوندون نغمې نه وي ، په جګړو کې د ویرونو او مرګونو اټڼونه وي - جګړه دمرګ اوبربادۍ نوم دی .

په همدې بناجګړه ترخه وي او جګړې دهوس لوبې نه‌بلکې د " جبر" او "قهر" مظاهرې وي ، هیڅوك دشوق لپاره دجګړو په تبۍ وردیدوته په خوښه زړه نه ښه کوي.

البته دهغو بناغلیو حساب بیل وي چې جګړې ورته دمیلې اوتماشې بڼه لري ، جګړې ددوی دګټو لپاره روانې وي ، جګړې دهغوی په اشارو توديږي اودهغوی دهرا اوهوس ، پاللو په درناوی دکګریو انبارونه او دوینو دندونه جوړیږي ، خو دده پکې نه پزه وینې کیږي او نه یې پر جامه چیرې کوم ګرد پریوځي - هغوی ته دجګړو مفهوم هم بیل وي اوهدف هم - ددغسې بناغلیو معامله تل له ولسونو نه بیله وي.

خوتر کومه چې په ملتونو پورې مربوطه ده ، دهغوی لپاره هغه جګړې چې دخپلې نظریې،هویت ، تشخص ، ناموس ، پت اوخپلواکۍ لپاره یې کوي ، له ټول تریخوالی سره بیا هم دومره ترخې نه وي ، دهغو جګړه مقدسه وي ، ارزش لري ، دهدف خاونده وي او دا تقدس ، ارزش اوهدف ملتونو ته داد ورکوي ، له نشاط نه یې برخمنوي ، ارادې یې مضبوطوي او داسې یوسکون اوغرور ورکوي چې دژوند شیبه ، شیبه ورته یو"فخر" شي یوللت شي او په ژوند کې یوه " لوړژوند " ته درسیدو هڅه شي .

خوچې کله جګړې له همدې مفاهیمو تشې شي او دهمدې ګانو له ښایسته یې برخې شي بیانو یو " عذاب " اوبلا" شي هره شیبه یې یوه " فاجعه " او یوه بدمرغي وي .

په همدې وجه مونږ واېوزمونږ ترجهاد وروسته چې کومې جګړې وشوې داټولې دنظار شورې دجفا وو اوناروا وو په وجه وشوې ، داټولې زمونږ قوم ته یو سوځوونکې عذاب و . متاسفانه دا عذاب ورځ په ورځ خطرناك شوی دی.

دادې ګورو چې جګړې دتیرو دریو کلونو تر هر وخت نه نن زیاتې خپرې اوتودې دي.

که دجګرو دختم لپاره ټینګ عزم ونشي ، معقول ابتکار ونشي ، له موقع نه مناسبه ګټه وانه خیستلای شي ، هغه په خپله نه ختمیږي ، بلکې لکه چې مو ولیدل لا خطرناکې کیږي او لا دویرونو او تراژیدیو دبرانونه جوړوي .

همدانن ددې فرصت دی چې دجګړې دختم هودوشي ، پلان جوړشي او په عملي اقداماتو لاس پورې شي .

لومړی خو دا چې دکابل اداري مسئولین پوه شي ، له عقل نه کار واخلي او په دې سوچ وکړي چې اخیر څه یې روان کړي ، څه غواړي او څنګه یې لاس ته ورورځي شي !

که هغوی په دې موضوعاتو ژور فکر وکړي چې له ملت سره یې بو ځای ژغورنه په دې کې ده چې له اوسنې لارې څخه واوړي اووایي چې راځئ دولس لمنې ته ورشو او په هغې کې دسکون ،شرف او حل لاری ولټوو.

که هغوی دانه کوي او ددې طمع ترې په هیڅ توګه نه کیږي نو بیا دې داټولوته چې کابل اداره دجګړو دختم په مخ کې لوی خند ګڼي ، په اوضاع غوروکړي ، دادې په نظر کې ونیسي چې روانې جګړې دڅه لپاره ؟ آیا " جګړه " د" جګړې " لپاره ؟

آیا مرګ د مرګ لپاره ؟ اوکه جګړه دسولې لپاره اومرګ د ژوند په خاطر. که هدف یې دا دوهم صورت وي نو بیا ولې خپلو جګړو ته " هدف " نه ورکوي ، البته یواځې په الفاظو کې هدف نه بلکې په عمل اوقدم کې هدف.

که جګړې په اوسنې بڼه روانې وي هیڅ نتیجه هم نشي درلودلای ،نظار شوری به ترفشار لاندې ونیسي ، غرور به یې ورمات کړي ، په مخالفینو به یې د "سترګو برګولو" شیبه ورختمه کړي ،خو دهیواد ګرکیچ نشي اوارولای دقضایاو دحل لپاره دزمینې په برابرولو کې پریکنده نقش نشي لوبولای .

مګر که داجګړې همآهنګې شي ، منظمې شي ، یومشخص اوګډهدف ورکړل شي دبحران دحل په لوري لوی بری ګټل کیدای شي .

نظار شوری به یامضمحله کیږي او یا به چمتو کیږي چې دیوه معقول حل منلو ته تن ورکړي،دهمدې لپاره دطالبانو دمشرانو مسؤلیت دی چې بې له دې چې بیا وخت ترې ضایع شي اوفرصت له لاسه ورځي له همآهنګۍ شورې سره دې خپل حرکت هماهنګ کړي ،تفاهم دې وکړي اودخپل مظلوم ملت دژغورنې لپاره دې په یوه ګډ حرکت لاس پورې کړي .

دوی به هیڅ له لاسه نه ورکوي ،شاید په هماغه صورت کې یې تلفات هم کم شي ، فشارهم وریاندې لږشي خو یو لوی هدف به ترسره شي ، هغه هدف دادې چې نظارشورې به یاد اضمحلال لار غوره کوي اویا به معقولیت ته غاړه ږدي.

په همدې بنه به زمونږ په هیواد کې له نظار شورې سره روانې جګړې دیوه عملي هدف په موندلو سره ، همآهنګې شي ، چټکې به شي ، لنډې به شي او بالاخره په دې به تمامې شي چې په افغانستان کې دټولو په خوښې سره دیوه اسلامي زعامت دراټولولپاره لار اواره شي .

ان شا الله

مرحله جدید مداخله روسها در افغانستان

اداره ائتلافي کابل پاکستان رامتهم به دخالت درامور داخلي افغانستان مي نمايد. تاآنجا که قضيه به مداخله کشورهاي خارجي رابطه مي گيرد اين حرف مورد تائيد است که مداخله خارجي درکشور ماوجود دارد اما اختلاف ماباادراه کابل درين است که آنها دامنه مداخله خارجي رامحدود ترساخته وفقط يك کشور را درآن ذيدخل دانسته است درحاليکه دامنه اين مداخله بسياروسيع تراست . براي درك بهترابعاد مداخلت خارجي درافغانستان نخست به زمينه هايي که مداخله رامدد ومددگار است بايد ترجه شود.

عامل نخست درين رابطه اختلاف ميان تنظيم هاي جهادي است .

بنظرماگرکسي ازمداخله دست هاي خارجي درامورداخلي افغانستان نگراني دارد وصميمانه وصادقانه قصد دفع اين مداخلات رامينمايد بايد بيش ازديگران درجهت رفع اختلافات تلاش ورزد . شخصي که مداخله خارجي رابراي تماميت ارضي افغانستان وبقاي اين کشور مضرميداند بايد اين نکته رانيزدريابدکه قطع اين مداخلات ازراه رقابت هاي نظامي بين نيروهاي داخلي نه تنها ممکن نيست بلکه مداخله خارجي درنتيجه چنين رقابت ها زمينه پياده شدن ميبابد . نکتهٔ ديگري که بايد به آن توجه گردد اينست که دست هاي خارجي درهرکشوري که درآنجا اختلاف وکشمکش داخلي موجودباشد مداخله ميکند واين مداخله کم کم به شکل رقابت ميان همسايه گان درمي آيد، درافغانستان نيز ماچنين وضعي راشاهد هستيم . وقتيکه نيروهاي شوراي نظار، باائتلاف باعناصري ازجناح پرچم وستمي هاونيروهاي ديگردرکابل قدرت رادر دست گرفتند همه ميدانستند که اين کار کاري تصادفي نبود بلکه نتيجه ماه ها مذاکره وتفاهم درداخل وخارج بود. کمونست هاي مؤتلف باشوراي نظار اين تصميم را بصورت مستقل اخذ نکردند بلکه درين رابطه باارباباي شان در روسيه مشوره داشتند همانگونه که ديگران درين رابطه باحاميان خارجي خود داشتند. هيچکس هرقدرهم که سهل انگارباشدنميتواند ازاين واقعيت چشم بپوشد که روسيه وايران درين تحول نقش مستقيم داشتند وطرفداران آنان درافغانستان بصورت مستقل هرگز جرئت مذاکره را باشوراي نظار نداشتند چه رسد به ائتلاف ومشارکت درقدرت .

درنخستين روزهاي بعدازسقوط نجيب محموله پول افغاني که درروسيه به چاپ رسيده بود به شوراي نظاردرکابل تحويل داده شد . اين مسئله راروسها نيز تائيد کردند اما گفتند که قرارداد چاپ وارسال پول بارژيم سابق عقد شده است ولي آنان به ارسال پول به رژيم جديد تاختم قرار داد ادامه خواهند داد .

نکته ديگري که براي فرد ،فرد مجاهدين معلوم است اينست که رژيم سابق به تمام نيرو هاي خوددرسراسرافغانستان دستورداده بودکه با قوماندانان نيروهاي شامل درائتلاف يکجا شوند . بطورمثال دربغمان ملاعزت قوماندان شوراي نظار آشکارابا خاد رابطه داشت ومجاهدين پغمان اورا ازمنطقه رانده بودند. همه تنظيم هاوي رابه عنوان يك جاسوس دولت مي شناختند ولي فرقه قرغه وپوسته هاي کمربندي غرب کابل دريك شب همه به ملاعزت تسليم مي شوند .

درقندهار ملانقيب بدون جنگ شهرراتصرف ميکنند وراه ورود همه مجاهدين ديگررا مي بندد. دريکتيا نواي دولت دستور مي يابدکه خودرا فقط وفقط به مولوي حقاني که تاآن وقت باحمدشاه مسعود تفاهم داشت تسليم کند .

اين نکته کاملاً آشکاراست که روسهانمي خواستند بعدازسرنگوني نجيب درافغانستان دولتي به وجود آيد که براي جمهوري هاي آسياي ميانه ايجاد خطرنمايد وشوراي نظارنه تنها اين شرط روسهارا پذيرفت وقطعات سابقه راجز نيروهاي دولت اسلامي قلمداد کرد بلکه حيات ومصئونيت کمونست هاي جناح، پرچم وستم ملي رانيزتضمين نمود . ببرك کارمل بعداز استقرارحکومت مجاهدين بااحترام کامل راهي مزارشريف گرديد .

دروسانه هاي گروهي تحت کنترول دولت هيچ مطلبي عليه کمونستها به نشرنمي رسيد حتي وقتي قبرهاي دسته جمعي مجاهدين درپوليگون پل چرخي کشف شد به خاطراينکه خاطرات جنايات کمونستها در ذهنيت ها زنده نشود درپرابراين مسئله به صورت شرم آوري سکوت اختيار شد. انعطافي که دربرابر کمونستها نشان داده ميشد واقعاً حيرت آوربود. مزدك وکاوياني هنوزهم آزادانه به کابل مي آيند وهفته هارا دربه اصطلاح پايتخت حکومت مجاهدين سپري ميکنند، باهمفکران خويش به مذاکره مي پردازند وامنيت آنان رانيز نيروهاي مسلح « دولت اسلامي »، به عهده دارند.

جالب اينجاست که يکي ازوزراي دفاع سابق رژيم کمونست يعني جنرال رفيع درکابل دستگيرگرديد، خبردستگيري وي را راديو کابل باآب وتاب فراوان گزارش داد ولي بعداً رفيع بي سروصدا اززندان آزادشد وي اجازه يافت به هرکجا که مي خواهد برود !

مسئله تاجکستان وظلمي که برمسلمانان دراين کشور صورت گرفت ومي گيرد ومشکل مهاجرين تاجك درافغانستان مسئله ايست که بايد دولت مجاهدين درکابل آنرا درسطح بين المللي همانگونه مطرح ميکرد که شهيدضيا ، الحق مسئله افغانستان رامطرح کرد . بايد تلاش هاي زياد درجهت جلب کمك به اين مهاجرين صورت ميگرفت تاآنان به علت مشکلات طاقت فرسا دردبارهجرت به تسليم شدن به کمونستها تشويق نميشدند، امادولت نه تنها درين جهت قدمي برنداشت بلکه تعمداً ازيك طرف براي مهاجرين مشکل ايجاد کرد وازطرف ديگر باروسها وکمونستهاي تاجکستان برسرميزمذاکره نشست ومسئله بازگشت مهاجرين رامطرح نمود .

درين رابطه ميتوان مثال هاي فراوان ارائه کرد جاي ترديدنيست که امروز کشورماصحنه کشمکش هايي است که درآن کشورهاي همسايه نقش واثرترديدناپذيردارند اما مداخله روسها بعد ازسقوط نجيب شکل ديگري رابه خود گرفت . بنابراين محدودساختن مداخله خارجي به کشور پاکستان فقط وسيله ئي براي پنهان نمودن مداخله ئي است که روسيه ازطريق شوراي نظار درافغانستان انجام ميدهد . اين مسئله يي است که ملت مسلمان ومجاهد افغان ازآن کاملاً آگاه است وتاريخ نيز آنرا به خاطرخواهدسپرد .

درين اواخر بادرنظرداشته انکشافات تازه بين المللي وتغيير دربرخي ازگرايشات سياسي منطقه ، روسها بار ديگر توجه خودرابه مداخله درامور داخلي کشورما ازدياد بخشيده وميتوانيم آن راآغاز مرحله جديد دست اندازي ها درافغانستان بناميم ،مسئوليت همه نيروهاي مؤمن و وطن دوست وملت باايمان افغان است تامتوجه ايـن واقعيت باشند واوضاع کشوروحوادث احتمالي آينده را بادقت مطالعه نمايند .

###

آیاجهادي تنظیمونه داسلام اوملت پرخلاف واقع شوي ندي ؟

دکمونیزم له ماتې وروسته داسلام اواسلامي نهضتونوپرخلاف دنړیوال استکبارنوي کرنلاره

لټون

(په تیریسي)

هغه لاملونه چې زمونږجهادي تنظیمونه یې داسلام اوملت پرخلاف واقع کړي دي ، دهغوله جملې نه یویې دنړیوال استکبارهغه شومې اوشیطاني توطئې دي چې دکمونیزم له ماتې وروسته یې بیازې اسلام اومسلمانان خپل دلومړي صف دښمنان په نښه کړي دي .

دنړیوال کمونیزم په مقابل کښې دافغانانوداسلامي جهاد بریالیتوب دنړۍ ټول مستضعفان اوپه ځانګړي توګه مظلوم مسلمانان دخپلوحقوقود ترلاسه کولوله پاره راپورته کړل چې ترډې وخته له خپلوحقه حقوقومحروم اودظلم ، استعماراواستثمارپه پنجوکښې ګیرو، په کشمیر،برما ،فلپاین ، فلسطین ، سودان ، الجزایر، دمرکزي آسیا په مسلمانوجمهوریتونو ، مصر..... اونورو هیوادوکښې مسلمانان دخپلوحقوقو ترلاسه کولوله پاره راپورته شول ، ځینویې په وسله واله مبارزه پیل وکړاوځینو نوروبې دآزادو انتخاباتو له لارې ، خپلوحقوقودترلاسه کولوله پاره جدوجهد پیل کړ، اودنړۍ په ګوټ ګوټ کښې دغوغورځنګونوپه زوره پورې بریالیتوبونه هم ترلاسه کړل لکه په کشمیر کښې چې دادی له اوه پاڼه کلوراپدېخوا ددغې سیمي مسلمان مجاهدین دښمرلکه هندي پرخپالوپه مقابل کښې مقاومت کوي اولري نه ده چې ډیرژرپه انشاالله کشمیري مجاهدین خپل خاوره دهندي یامیرانوله غلامۍ نه وژغوري .

همدارنګ په ۱۹۹۲ مېلادي کال الجزایري مسلمانانودمشراکثریت له مخې دهغه هیواد جمهوري انتخابات وګټل ، خومتاسفانه دفرانسوي استعمارپه تقویه پرې پوځي حکومت مسلط کړای شو اودآزادو انتخاباتوله لارې په هغه هیواد کښې دمسلمانانود واکمنۍ مخه ونیول شوه اودادي تراوسه پورې دهغه هیواد مسلمانانو د خپلوحقوقو دترلاسه کولو په خاطرپه وسله واله مبارزه مجبوردي . په سودان کښې هم چې دمساحت په لحاظ داسلامي نړۍ ترټولو پراخ هیواد دی دالله جل جلاله په فضل اوکرم مسلمانان واکمن دي اودهغه هیواد اسلامي حکومت ګام په ګام داسلامي قوانینوونفاذله پاره کارکوي اوهم یې په بریالیتوب سره دخپلوګرودخیرخیګرې له پاره هلې ځلې کوي ، خودسودان په جنوب کښې دعیسوي تبشیریانو په وسیله جلب شوې عیسوي اقلیت چې دهغه هیواد دنفوسو په فصیدي کښې نه راځي ، نړیوال استکبارنري بوستره مسئله جوړه کړې ده اواقتصادي بندیزونه پرې لګول شوي دي .

که په مجموعي ډول وکتل شي دنړۍ په ګوټ ګوټ کښې مسلمانان له مشکلاتوسره مخامخ دي اوددغومشکلاتوعوامل دنړیوال کفرهغه شوم پلانونه اوتوطئې دي چې دمسلمانانو پرخلاف یې په بېلابېلوتوموتوعملي کوي .

لکه په بوسنیاهرزیګویناکښې چې ددغه هیواد مظلوم مسلمانان له یوې خوادملګرومللتونوپریکړې له مخې دیوه قانوني اوپه رسمیت پیژندل شوي هیواد اوحکومت سره سره دوسلې له ترلاسه کولومحرم دي او له بلې خواپرې دوحشي صربانو وحشیانه حملې له څوکلوراهیسې دوام لري یوې خوانه دناټوسرمنشی اسلام داروپااوګردی نړۍ له پاره دکمونیزم نه وروسته سترخطر ګڼې اوبلې خوانه دناټودغروهیوادوهوایي ځواکونودصربانودنیري پرخلاف دبوسنیایي ولس په ملاترد صربانوپرمرکزونوحملې کوي ، یوې خوانه متعصب عیسویان وایي چې داروپاپه زړه کښې به دبوسنیاهرزیګوینا اسلامي هیوادونه زغملای شي حوبل لوري نه بې دسولې پوځونوپه هغه هیواد کې دسولې ساتنې په پلمه دبوسنیاییانوپه پرله پسې ډول صربي پوځونوته تسلیموي ، له صربانوسره دروسانوهراړخیزې مرستې اوسیاسي ملاترګندوي چې داټوله دیوسنجول شوي پلان له مخې ترسره کیږي اوخدای مه ګړه ، خدای مه کړه بوځل بیابه داروپا په زړه کې داسلامي اندلس دسقوط پېښه تکرارېږي .

همدغه شیطاني توطئې ددې تېرودرې نیموکلوپه دوران کښې زمونږپرمظلوم ولس هم عملي کیږي اوشوي دي ، اوهغه داچې په اصل کښې دکابل دنباراقتداردکمونستانواومسعود په لاس کې دی ،مسعود داتضمین کړی چې له کمونستانوسره به دګډ اقتدارله تعهداتوسرغړاوی، نه کوي ، خوبلې خوانه دځینو جهادي تنظیمونوپردغه ګډاقتداردراټولیدلواودجهادي تنظیمونوتشکیل کړی شیول ددې شرایط برابرکړي ، چې ملت له خپل برخلیك دپریکړې نه لېرې وساتي اودجهادي تنظیمونودخپلمنځي کشمکش په نتیجه کښې ټولې ځوارلس کلنې قربانۍ ، وبارتې اوبریالیتوبونه په سیند لاهوکړي اوبالاخره ددغوجګړوهیڅ ډول مثبته نتیجه هم رانه ووځي ، څکه په څرګنده خودوارولوریونه جهادي تنظیمونه واقع دي ، په هریوه لوري کښې جهادي رهبران ،علما ، مجاهدین اونیاك شخصیتونه دي ، چې ملت یې دمنلي اوتائید په نتیجه کښې خپل یونیم مېلیون ورونه ، زامن ، پلرونه او اولادونه قرباني کړي دي ، همداعلت دی چې د دوی نیم کلنې جګړې عاملین ګناهګاراوځوارلس کلنې جګړې عاملین ، دروسانوراپلونکي ، هیوادپلورونکي اودیونیم مېلیونومسلمانوافغانانوقاتلان دخبرات په غونډي ناست دي ، له هغوی سره اوس هم دافکرونه غزوني کوي ، چې دملت راتلونکي به ورته سپارل کیږي ، له سره منظم کیږي، نوی تشکیلات جوړوي اوپه بېلابیلو جبهوکښې دکاراوفعالیت له پاره ګمارل کیږي .

څکه هغوی په کلکه دې ته امیدواردي ، چې کله افغانستان دکورنۍ جګړې نه راووځي ، هغه مهال به بیادجهاد اومجاهد نوم اخیستل جرم اوګناه وي له جهادي ورغالیونه به دهند ،ماسکواونړیوال استکبارروزل شوي اوملي خنزیران راووځي اودهغه چاپه پښوکښې به سروته ږدي چې استکبارورته داوسنیوجنګونوپه نتیجه کښې امیدواردي .

توریبا

قبول اسلام محمد علي کلي راباچه آزمايش هايي روبروساخت ؟

خاطرات جالب وحيرت انگيز قهرمان جهاني بوکس

مترجم : احمدضياء "رحيمزي"

پيوسته به گذشته

وبه يقين مي توان گفت که اين رقم عايده ريکارد جديدي دراين عرصه بود .

بعداز "لحظات" انتظار مسابقه آغازيافت . هنگاميکه «کلي » رابانام اسلامي وي معرفي کردند ، عده يي از ناظرين آوازبلند کردندونعره هاي مخالفانه سردادند . ريفري (حکم) مسابقه، بااشاره اغازمسابقه را اعلان کرد، وهردوبوکس مين به طرف يکديگر پيش قدمي کردند ، ولي هنوزدقايقي ازآغازمسابقه نگذشته بودکه واقعه حيرت انگيزي به وقوع پيوست . «کلي » بعدازگذشت يك دقيقه و (٢٤) ثانيه ازآغازمسابقه ، مشتي رانثار «لستن » کرد و موصوف بعداز همان مشت به زمين افتاد ونتوانست باردیگربرخيزد . به اين ترتيب غروروتکبر «لستن » وهموطنان صليبي وي باخاك يکسان شد وهنگاميکه لستن افتان وخيزان به پاايستاد ، شمارش براي ايستادن وي ازحدتعين آن گذشته بود. درنزديکي ميدان مسابقه مدير جريده «رنگ » که ازجرايد مشهور مربوط ورزش بوکس محسوب مي شود وجودداشت وچون راي ونظر مدير جريده مذکور «فليشرفليپ» درمسابقات بوکس حتمي وقطعي شمرده مي شد، لهذا بااعلان موصوف که «لستن» بعداز پوره شدن شمارش معينه به پاايستاده، وتائيد اين موضوع ازجانب حکم مسابقه ، محمدعلي کلي باردیگربرنده شناخته شد. و به اين ترتيب محمدعلي کلي به فضل ومدد خداوندي (ج) موفق به حصول فتح مبين گرديد .

هنوز مردم بصورت درست نه نشسته بودند که مسابقه به پايان رسيد، واين همه جريان آنقدر فوري وآني بودکه عکاسان تنها ٣ قطعه عکس آن رابه مشکل توانستندتهيه کنند .

ناظرين به غوغاپرداختند که اين کاررواني جعلي ودور از حقيقت است . اصلاً کسي فکرنمي کردکه «لستن» باچنين رسوايي وذلت بي مثال روبرو خواهدشد . به همين دليل بودکه درتالارشور وغوغاي زيادي برپاگرديد . عده يي ازمردم درحاليکه باقهروغضب جيغ مي زدند درميدان مسابقه حمله آورشدند، وديوانه واربه محمدعلي کلي دشنام وناسزامي گفتند، برعلاوه تعصب شديد، در فکروگمان آنها خطورنمي "کردکه «لستن» يك شخصيت تسخير ناپذيربايك مشت محمدعلي بي هوش گـرديده ، دوباره برنخواهد خاست . درهرذهني اين سوال خطور مي کردکه ظاهراً دست وپنجه «کلي» آنقدر زوروداروقوي نمي نمايد، پس لستن چرا به زمين افتاد وبي هوش گرديد، ولي جامعه ماده پرست وروحانيت دشمن امريکائي دانست که تعلق وارتباط باخداوند ودعاچه تاثيراتي برانسان دارد . گرچه عده يي زيادي از نقادان ومبصران بي طرف وهمچنان چندين تن ازقهرمانان جهاني وزن سنگين بوکس چون فلائيدپيترسن، انگمار، جوهنس س وجودالکات، محمدعلي را دراين مسابقه بحيث يك بوکس مين عظيم پذيرفتند ولي آتش غيض وغضب امريکايي هاي متعصب وکينه توز بعداز اين واقعه کراماتي بيشتر از پيش شعله ورگرديد. عده يي از اخبارات وبعضي رسالات ومجلات سپورتي خواهان چاره جويي قانوني عليه کلي شدند واتحاديه جهاني بوکس ازپذيرفتن وي بحيث «قهرمان جهاني وزن سنگين » انکارنموده فلائيد پيترسن را که دوبار درمقابل «سوني لستن» شکست خورده بود، قهرمان خود پذيرفتند . وبه اين گونه يك ورق ازکتاب « اصول پسندي » امريکاباز مي گرديد .

کلي بخاطربدست آوردن دوباره مقام قهرماني جهاني « فلائيدپيترسن» را دعوت مقابله داد. و براي انجام اين مسابقه تاريخ (٢٢) نوامبر ١٩٦٥ تعين گرديد . همگام بااعلان اين مسابقه «پيترسن» تضحيك ،تحقير وتمسخره کلي » را آغازکرد وبه اين ترتيب همدردي هاي همه مردم متعصب امريکارا به سوي خود جلب کرد واين گروه مردم متعصب امريکا همه اميد ها وآرزوهاي خود براي اظهار بغض ونفرت عليه کلي را با «پيترسن » وابسته نموده بودند .

«پيترسن» بوکس مين ذهين وکهنه مشق بود، دوبار مقام قهرماني جهاني راکسب نموده بود، که با وجود دوبارشکست خوردن درمقابل «سوني لستن » ارتباط وعلاقه خودرا باميدان بوکس قطع نکرده بود.

«فلائيد پيترسن » قبل ازمسابقه بامحمدعلي کلي پنج بوکس مين معروف راشکست داد وبه اين گونه اندکي اعتمادش برحال شد . اوهميشه ادعاي فتح خودرامي کرد و اسلام را مورد تمسخر قرارمي داد «کلي » بالاخره به تنگ آمده به جواب چرنديات اوگفت :« مرامجبور مي سازند تامذهب «پاپ» وکاتوليك » را مورد انتقاد قراردهم ولي من هرگز چنين نخواهم کرد. من نمي دانم که افتخارقهرماني جهاني بااسلام چه ارتباطي دارد ؟ به هرصورت حال من «پيترسن » را به خوبي خواهم کوبيد . من مسابقه را بيشتر ازپيش طول خواهم داد، تااين «موش » راهرچه بيشتر خواروذليل سازم ، تاآن هنگامي اورا جزاخواهم داد تاپاهايش جواب نداده وازکار نيافتند، وازاومثال درد آوري خواهم ساخت . »

قبل ازآغاز مسابقه بين «کلي » و«پيترسن» دوست عزيزومعاون تربيرکلي «بندينی » بااوقطع رابطه نموده ، با «پيترسن» همکارشد، وهمه چال هاي شکست دادن به محمدعلي رابه پيترسن بازگوکرد . همچنان اخبارات ووسايل ارتباط عامه همچوگذشته هيچ موقع درتعريف وتوصيف «پيترسن » وتنقيدبر«کلي» را ازدست ندادند.

کلي فقط چند لحظه قبل ازآغازمسابقه گفت : « من ازاين طريق به ناظرين حاضرو آنانيکه ازطريق صفحه تلويزيون مسابقه رامشاهده مي کنند مي گويم که من «پيترسن » را ناك آوت (خارج ازمسابقه)نخواهم کرد. بلکه اورا باپي رحمي تمام لت وکوب خواهم کرد » .

وبه همان گونه هم شد . ازميدان چهارم الي دوازدهم محمدعلي بالت وکوب همه جانبه ،جان ازبدن «پيترسن» بيرون آورد. سرورويي وچشمان پيترسن آماسيده بود، چهره اش جابجا خون پر مي نمود، تاحديکه بالاخره اوبي هوش گرديده بزمين افتاد. وباشکست رسوا کننده ئي روبرو شد . اورا درحالت نيمه بي هوشي برداشته ازميدان مسابقه خارج کردند . به اين ترتيب محمدعلي ازيك بوکس مين [illegible] وگستاخ خوب [illegible] گرفت

ادامه دارد

بخون خفتگان سنگر حق

سومین سالروز شهادت قوماندان دیدار گرامی باد

سومین سالروز شهادت برادرمجاهد وهمیشه درسنگر تورن جنرال محمدنعیم «دیدار» راکه عمري به منظور سربلندي اسلام وشکست کفروالحاد دلیرانه رزمید به کافه ملت شهید پرورافغانستان بویژه مردم دردمند ورنجدیده کابل تبریك وتسلیت عرض می داریم

شهیده دیدار» فرزند الحاج محمد امین درسال ۱۳۳٦ خورشیدي درقریه انجي باغبان ولسوالي چهاردهي ولایت کابل چشم بجهان گشود . موصوف مرد مسلمان، وطندوست وباشهامتي بودکه بعداز کودتاي ننگین هفت ثورسال ۱۳۵۷ درصف برادران مجاهد خویش بمبارزه چریکي درکابل پرداخت .

شهید «دیدار» درجریان مبارزه چریکي اش دوبارتوسط جاسوسان رژیم ملحد دستگیرشدکه درهربار ازچنگال این جنایتکاران فرارنموده وبه همرزمان خویش پیوست .

شهید دیدار نظربه شجاعت وفراست نظامي اي که داشت دراواخر سال ۱۳۵۹ بحیث قوماندان چریکي کابل وسپس بحیث قوماندان عمومي ولسوالي چهاردهي تعیین گردید ، بعداً درسال ۱۳٦٦ قرارگاه «والفجر» ولسوالي جلریزولایت میدان وردك را تاسیس نمود وبخاطر تشدید عملیات کفر شکن خویش برمزدوران روس وکمونیزم خون آشام قرارگاه دیگري رادرللندر چهاردهي بنام الصبح نیز درسال ۱۳٦۷ بنانهاد که همواره بردشمن زبون ضربات دندان شکن وارد مي نمود.

شهید «دیدار» درانتخابات سال (۱۳۷۰) عضویت شوراي مرکزي حزب اسلامي راحاصل نموده وپس از روي کارآمدن اداره ائتلافي هم به مبارزه خویش علیه ملحدان ادامه داد .

این قوماندان محبوب درسرطان ۱۳۷۱ بحیث رئیس ارکان فرقه (ضرب مومن) تعیین گردیدکه بالاخره باسه تن از رزمندگان مجاهدش درحادثه المناك سقوط هلیکوپتر بتاریخ ۱۱ سنبله ۱۳۷۱ جام شهادت را سرکشید.

(اناالله وانااليه راجعون)

روح شان شادویادشان گرامي باد

##

چرا مصداق قول دشمنان باشیم

سید جلال الدین

پیوسته به گذشته

دشمنان دین ومهین تمام کارنامه هاواعمال وواقعه نوحه پردازان دیروزواکه امروزبرگرده ملت محروم کشوربانگذاشته اند . زیوره بپس قرارداده وقدم به قدم آن راتعقیب و حلاجي مینمایند وکارنامه های ایشان را بااحزاب چپی والحادی که قبلا حاکمیت کشورارادراختیارداشتند مورد مقایسه قرارمیدهند وبعدا درهرمحفلی لب به اعتراض میگشایند که چه تفاوتی میان عملکرد هاوجود داشته است که بدون شك دست کمی ازآن هانداشته ایم .

تداوم جنگها که بدون شك چهره شهرها ،محلات وحتی اهالی آن را عوض ساخته وکشوررابه مخروبه بی مبدل ساخته است دراثرتوطئه های خائنانه افرادنفوذی وعناصروابسته به احزاب الحادی درمیان صفوف مجاهدین وهم چنان اشخاص وافرادیکه به دستگاه های اطلاعاتی بیرون درارتباط اند بوده است .

فعالیت همین عناصرمزدوروابسته دردستگاه های جهادگران مومن است که نیگذارد آن ها ازوحدت کامل برخوردارگردیده وهویت مفقود خویش رادریابند .

باتشدید بیشتراختلافات وکشمکش ها ازیکطرف نیروهای جهادی رویه تحلیل رفته وازطرف دیگربزرگترین ضربه حیثیتی برکیان مجاهدین وارد گردیده است که به مشکل میتوان آن را دوباره جبران نمود.

علاوه برآن تعدد احزاب وگروه ها نیزفعالیت کج اندیشان منحرف را تسریع نموده ودربروزاختلافات نقش بزرگی را ایفاء مینمایند . عدم موجودیت رهبری واحد در کشور و تعدد زعامت ها وقیادت ها خود مسبب دیگر بست براادامه اختلافات وکشمکش ها .

مردم مسلمان کشور درطول چندین سال جهاد قادرنشدند به یك رهبری واحد سیاسی دست یابند که بتواند همه افراد کشوررا دورخودجمع نموده وازمنبع واحدی اطاعت نمایند،همین عدم موجودیت رهبری واحد باعث گردیده که جهادگران قادرنشوند روی یك چوکات بندی نظام اسلامی دورهم جمع شده ونظام دلخواه مردم مسلمان کشور رابه میان بیاورند .

به منظور تشکیل یك اداره واحد اسلامی ضروریست تاصفوف جهادگران مومن ازلوث افراد وابسته واجیران زرخرید پاك بوده وچهره های منفوروکریه آنها افشاونگذارند بیشترازین صفوف مرصوص شان را دراثرتبه کاری های خویش متزلزل سازند، به امید برچیدن بساط ظلم وجنگ ازسرزمین دلیران افغانستان .

اداره رباني ازبکارگیری قوای هوایی...

به نوشته این روزنامه حزب اسلامي افغانستان هیئتي را به ریاست مولوي سرفراز به نمایندگي ازشوراي عالي هماهنگي به قندهارفرستاده است .

درگذشته طالبان ازائتلاف بابقیه گروهاي مخالف اداره کابل خود داري میکردند امااکنون تاحدي به این امر تمایل نموده وگفته میشودکه حوادث اخیر درین زمینه بي تاثیر نبوده است .

روزنامه مینگارد : گزارش شده که طالبان ازجنرال دوستم تقاضاي کمك نموده تاسه فروند طیاره جت جنگي (میگ ۲۱ وسو ۲۲) این گروه را ترمیم وفعال سازد،

برپایه همین گزارش تخنیکران وانجنیران جنبش ملي طیارات جنگي طالبان را فعال نموده واین گروه توانسته است در درگیري هاي اخیر در فراه ، هلمند ونیمروز از آنها علیه نیروهاي اداره کابل استفاده کند .

همچنان گزارش شده که در بمباران میدان هاي هوایي هرات وشیندند نیزشرکت داشته اند .

همچنان جنبش ملي که از قواي نیرومند هوایي برخوردار است عملیات موثري برمیدان هاي بگرام ، شیندند وهرات انجام دادهوضربات کاري بر پیکر اداره کابل وارد آورد .

